مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله اریزی
۲۰۲۴/۱۰/۰۵

# د ختيو ښځه

## (لنډه کيسه)

قضا مازديګر و چي ناڅاپه د اسمان سرې لمني توري شوې. د بادونو درنو ځپو د ښځو غړونه يو له بله ورک کړل. شين اسمان تياره او د ماشومانو غږونه تپ شول. ښځو کروندې پرېښودې. خپل ماشومان يې پورته کړل او په بېړه د خپلو کورونو په لور وخوځېدې. سکينې هم ژر- ژر شيان ټول کړل او له خپل بچي سره روانه شوه. په لاره کې يې فکر کاوه چي خونه به هم سره وي؛ ځکه همدا نن يې په ختو موښلې او سپينه کړې وه.
د ناوخته مازديګر درنو بادونو، د کلي د شا او خوا ځمکو خاورې دوړې هم پورته کړې او په تته رڼا کې يې سم ماښام جوړ کړی و. خلکو يو په بل چيغې وهلې:
- په ښځو او ماشومانو ناري کړئ چي ژر کورونو ته ستانه شي!
- هلئ ځاروي شپلونو ته ننباسئ!
- ماشومانو کورونو ته لاړ شئ!
ملا د جومات مخې ته ودرېد، خپله دعا يې پای ته ورسوله او چيغې يې کړئ:
- په خلکو لويديځ لور ته ورېځې توري او درني دي. ښځې او ماشومان کورونو ته ورسوئ او ځانونه خوندي کړئ.
توبې وباسئ. الله دې خير کړي، سېل به راشي.
شيريني انا د مخامخ کمکي کور له بامه، د درنو ورېځو په لور ابرې وشيندلې او ناري يې کړې:
- او زامنو هلئ کورونو ته ننوځئ، توبې وباسئ. ورښت کېږي او خدای مکره سيلونه به زيانونه واړوي!
لکه چي ورېځې د شيريني انا په ابرو خوري نه شوې. ماښام ناوخته داسې ورښت پيل شو چي چا په خوب نه و ليدلی. شرکنده باران او د باد دومره زورورې ځپې چي غوړونه يې کڼول. ښځو هغه کوله چي ماشومانو ته لړ خواړه ورکړي او ژر يې ويده کاندي. نارينه وو غوړونه ځک نيولي او ناهيلي ښکارېدل. هيڅوک جومات ته نه وو تللي! بهر سخته تالنده، برېښنا، درزهارې او تپ تور و. په خونو کې کمکيو ډيوو دومره رڼايي خورولې چي کورواله وو به، د يو بل اړياني سترګي ليدلای شوې.
خواني خپلې مېرمني ته وکتل او وويل:
-- ته خو تياره د ختيو ښځه غوندې ښکارې!
او ورو يې وخندل:
-- بهر باران ته ودره چي پرېمنځل شي!
ماخستن مهال ورښت او باد  دومره زورور شول چي ان د يوې خوني خلکو يو د بل غږونه، سم نه شوای اورېدلای.
دا وخت نواب اکا، د خواني د خوني مخي ته غږ وکړ:
- خواني!
خواني چي په دې تالندو، برېښناوو او باد کې، د نواب اکا غږ سم نه شوای پېژندلای، لومړی خپلي مېرمني سکيني ته وکتل او بيا يې پوښتنه وکړه.
- څوک يې او څه وايې؟
شېبه وروسته نواب اکا ور پرانست.
- خوانيه ما ويل ويده نه شي. له دې تالندې وروسته هرومرو سېل راځي. الله دې خير پېښ کړي. توبې وباسئ. زه ځم چي نور کليوال خبر کړم.
خواني خپلي مېرمني ته وکتل؛ خو نواب اکا ته يې ځواب ورکړ.
- وايي چي د دې خونه لړ اوبه غواړي! زموږ دا نوې خونه، ستاسو د خونو په شان اوس هم لمده ده. موږ لا تراوسه کړکۍ هم نه لرو!
کله چي نواب اکا لاړ، سکيني خواني ته وويل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

- یو ځل د باندې لاړ شه او وګوره چې څه چل دی.
خواني خپل پټو واغوست او لاړ.
خواني بهر د نواب اکا غبرګ واورید چې بل څوک یې د سیل په راتګ خبراوه. د خونې مخې ته دوه درې لوښتې جګې اوبه رواني وې. داسې ښکاریده چې د سېل لومړنۍ څپې د دوی نوی کمکي کلي ته رسیدلي دي. خواني د یوې بریښنا په پړک کې درې څلور کسان ولیدل چې په اوبو کې ولاړ وو.
- په خلکو توبې وباسئ. که همداسې واوري لګه اوس، سیل به له غرونو او رغونو داسې کاڼي او شګې راوړي چې زموږ خونې به لاندې کړي!
- ځئ چې په نورو هم غږ وکړو چې ویده نه شي. سیل شیبه په شیبه ډېرېږي.
- ښه خبره ده.
- زه پوه نه شوم چې تاسو څه وویل، غوږونه مې سم نه اوري!
خواني د تالندې په یوه بله لنډه رڼا کې، درې څلور کسان وپېژندل چې په دریو څلورو لویشتو اوبو کې، پاس لور ته وخوځېدل.
خواني ولیدل چې تیز باد د دې خلکو مخه نیوه او چیغې لا هم اورېدل کېدې:
- په خلکو ویده نه شئ. سېل په کلي راوګرځېد. د غرونو له لمنو څخه د درانه غرمبهاري غږونه راځي.
خواني لا له خپلې خونې څخه لیرې و چې سکینه یې بهر ولیده. د سېل اوبه د سکینې په ملا لګېدې. خواني ځو ځلې په سکینه چیغه وکړه چې بېرته ننوځي؛ خو لکه چې هغې دا غږونه نه اورېدل.
اوبه په ټول کمکي کلي خټلي وې. خواني د خپلې خونې په لور هڅه کوله؛ خو یوه پښه به یې لا له ختو نه وه ایستلې چې بله به ونښته.
د پاسه د کوم چا غږ راغی.
- په خلکو له کورونو ووځئ. سیل غتې غتې ډبرې پورته کړي. زموږ دیوالونه نه شي ورته تم کېدای...
کله چې خواني خپلې خونې ته نژدې شو، د خټک غږ یې وپېژاند.
- په خلکو سیل کومه ونه راوړې او زه پکې نښتی یم.
خواني شا ته، د غږ خوا ته لا سم نه و کتلي چې د اوبو یوه څپه یې ان په ټټر ولګېده او شا ته یې بوت، د اوبو بلې څپې لږ نور هم شا ته کړ، لکه چې پښه یې په ډبره ولګېده، نور هم شا ته شو، اوبه یې ستوني ته ورسیدې او ده فکر وکاوه چې اوس به یې اوبه په خونه هم ننوتې وي او ژړا ورغله.
++++++++
د سهار په لومړنیو وړانګو کې خواني په ډېره هڅه سترګې پرانستې. شا او خوا یې وکتل. نه پوهېده چې چېرې دی او ولې داسې دی؛ خو کله چې یې پرتې ونې، شا او خوا ته ختې او د شګو، کاڼو او ډبرو انبارونه ولیدل، لکه د خوبه چې وېښ شوی وي، بیګانی ورښت، سیل، سکینه او خپل یوازنی ماشوم ټول ورياد شول!
خواني نیم په ختو کې نښتی و. ټول وجود یې درد کاوه. په خوله کې یې د ختو خوند و. پزه یې هم په ختو بنده وه. هڅه یې وکړه چې پاڅي؛ خو پښه یې کلکه نښتې وه. په مخ یې لاس تېر کړ. مخ نه و، ختې وې ختې. شا او خوا یې وکتل. د کمکي کلي هېڅ پته نه لګېده. هلته لاندې یې دوه درې کسان ولیدل چې شا او خوا یې کتل او څه یې لټول.
خواني په ډېره خوارئ پاڅېد. یوه پښه یې بیسده غوندې وه. لکه د ختو سرې چې خوځېدلی وي. ډېر دروند و. ورو وخوځید، دی نه پوهېد چې په کومه لاړ شي، د کورکلي لار ځینې ورکه وه!
یو چا د لاس په خوځولو وپوهاوه چې پورته لاړ شي؛ خو خواني ځکه ښکته روان شو چې په اسانه تلای شوای. یوه پښه به یې له ختو ایسته؛ خو بله به یې نښته. کله به لویدو ته نژدې شو؛ خو ځان به یې ټکیه کړ. ده ژړ – ژړ هر لور کتل او هڅه یې کوله چې خپل پرونی کلی ومومي او کور ته لاړ شي. لکه چې ګیډه یې هم په ختو درنه وه.
نیمه ورځ وه چې خټک ناري کړې:
- خواني دې خوا راځه.
هلته دوه – درې کسان په کار لګیا وو او ختې او ډبرې یې بېرته کولې.
درنه چوپتیا خوره وه. د هغه کلي هېڅ پته نه لګېده چې تر پرون ماښام پورې د دیرشو څلوېښتو کمکیو کورونو خاوند او د ماشومانو له شوره ډک و!
کیڼ لور ته دوه درې مړي پراته وو. لکه د ختو انسانان هېڅ نه پېژندل کېدل. وړاندې خټک او دوه دریو نورو کسانو هغه چا ته کتل، چې نیم په ختو او کاڼو کې بند و. دا د ختو انسان هېڅ نه پېژندل کېده .
. خټک خواني ته وویل:
- لکه چې ښځه ده!
خواني په ژوبله پښه هغه لور ته ګام واخست. ښه ورته ځیر شو، د ختو ښځه سمه نه پېژندل کېده.
ناڅاپه د خواني له خولې چیغه ووته:
- اخ! دا خو سکینه ده...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سکینې سترګې غمجنې وې. داسې ښکارېده چې هغې څه شی نه اورېدل او نه لیدل؛ ځکه هېڅ غبرګون یې نه ښوده.
لکه د پوړنې له شا څخه چې حاضرو کسانو ته ګوري. خواني ته ځیر شوه. دا مخ په ختو کې سم نه پېژندل کېده؛ خو غړ یې بېژندګلوی غوندې و .
خواني لږ زړور شو او مخکې ورغی. جګه پزه، پلن وچولی او ډنګر مخ چې اوس په ختو او وینو کې سم نه ښکارېده. خواني ولاړو کسانو ته وکتل؛ خو خوله یې بنده وه او د ویلو د پاره یې څه نه درلودل.
خواني د سکینې په سترګو کې، د ژوندانه د پاره هغه اورنی مینه لټوله، چې اوس پای ته رسېدلی ښکارېده!
خواني په زړه کې په سکینه او خپل ورک بچي پسې ژړل؛ خو اوښکې یې د مخ په ختو کې نه ښکارېدې!
سکینې چې په ختو پوښلې وه، ټولو ته او بیا شا او خوا وکتل او سترګې یې پټې کړې.
ولاړو کسانو خواني ته وکتل.
خټک ورته وویل:
- د سکینې خبرې اوري؟
د خواني غړ لکه د کوهي د تله چې واورېدل شي:
- څه یې وویل:
خټک په داسې حال کې چې پاس کتل او خپلې اوښکې یې پټولې، وویل:
- هغې وایي چې کور مې چېرته دي؟
خواني وژړل او شاوخوا یې وکتل. د کور لوری له هغه هم ورک و!
د سکینې خوله لا هم خوځېده:
ـ زوی مې څه شو؟
خټک، خواني او نورو د سېل تګلوری ته وکتل.
دا ځل خواني هم د سکینې خبرې واورېدې:
-- په ټوټه کې مې ‌ څو ډوډۍ پاس د خونې په تاخچه کې درته ایښې وې!
نارینه یو بل ته ځیر شول.
شېبې وروسته د ختو ښځه لومړی په ټټر کړوپه شوه، بیا یې لاسونه زمکې ته اوږده کړل او بېسیکه زمکې ته ړنګه شوه!

پای

لومړی طرح 21/ اکتوبر/2022
وروستی کتنه 14اګست 2024
کورنبورخ کتابتون– هالند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ